**بسم الله الرحمن الرحيم**

## اې په اسلامي خاورو کې حکامو، ايا نه شرمېږئ!؟ ايا د دنيا له رسوايئ او د اخرت له عذاب څخه نه وېرېږئ؟ ايا عقل نه لرئ؟

(ژباړه)

تاسو د يهودو جرمونه اورئ او وينئ؛ پر مسلمانانو خپل کورونه رانړوي، مبارزين تعقيبوي او وژني يې، هغه که تر ځمکې لاندې وي او يا د ځمکې پر سر. د دوی جنايتونه لومړی په غزه کې پيل شول او ټول فلسطين ته وغزېدل او همداسې دوام لري. زرگونه کسان يې ووژل او لسگونه زره نور يې ټپيان کړل. بيا يې جنايتونه تر ضايحه سيمې ورسېدل او د مقاومت رهبر يې له نورو رهبرانو سره په جلسه کې په نښه کړ. بيا يې خپل جنايتونه د لبنان په پراخو سيمو کې زيات کړل. په همدې توگه د يهودانو جنايتونه د شام د خلکو پر وړاندې هم پراخ شول. پر دغو ټولو پېښو سربېره تاسو نه پوځ په حرکت راولئ او نه يهودان ستاسو لخوا د درد او زيان احساس کوي؛ هغه که له لرې وي او که له نږدې؛ بلکې ستاسو تر ټولو غوره کار دا دی چې شهيدانو ته «مړه» وايئ چې يهود درنه خوابدي نه شي! خدای تعالی خو دې تاسو تباه کړي، څنگه منحرف کېږئ؟

هغه دليل چې يهودانو ته يې د جنايتونو ترسره کولو جرات ورکړی، دا دی چې په خپل شاوخوا کې هيڅ داسې دولت نه ويني چې پر وړاندې يې مقاومت وکړي، ان يو دولت يې هم پر وړاندې نه دی درېدلی! ايران چې خپل حزب يې په لبنان کې تاسيس کړ، پر ضاحيه سيمه د شديد بريد پرمهال يې هغه يوازې پرېښود او خپلې الوتکې او توغندي يې له هغه څخه د دفاع او د ضاحيه سيمې د ژغورلو لپاره ونه لېږل. د فلسطين شاوخوا نور هېوادونه لکه؛ مصر، سعودي، اردن، عراق، سوريه او ترکيه ... داسې دي ته به وايې چې دا مسله په دوی پورې هېڅ اړه نه لري. دوی خپل پوځونه له هر لوري کنټرولوي چې حرکت ونه کړي، ان که عام خلک په يوه لاريون کې له پوځونو څخه د حرکت غوښتنه وکړي، حاکمان يې له سرې کرښې تېری بولي او هغوی بنديانوي! کوم هېوادونه چې نږدې نه دي، پر دغه لرېوالي خوشاله دي! ﴿أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾.

**اې مسلمانانو!** يهود د جنگ خلک نه دي؛ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ﴾** [آل عمران: ۱۱۱]

**ژباړه:** «دوی (يهود) تاسې ته له هيڅکله ضرر نه شي رسولی، مگر کوچنی زيان (به در ورسوي) که درسره وجنگېږي، شا به در واړوي (و به تښتي) بيا به دوی هيڅ مرسته او ملاتړ و نه ويني.»

**﴿ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ﴾** [آل عمران: ۱۱۲]

**ژباړه:** «دوی چې چېرې ومومندل شي(نو) د ذلت او خوارۍ ټاپه پرې لګېدلې ده؛ خو دا چې د الله په امان (او پر خپلې تلونکې لار نوې کتنه وکړي) او د خلکو په امان کې شي (خلکو ته پناه یوسي).».

له الله سره د دوی رسۍ (د الله لخوا ملاتړ او اړیکه) هغه مهال پرې شوه، چې له خپلو پیغمبرانو څخه یې سرغړونه وکړه او یوازې د خلکو رسۍ ور پاتې ده. یو وخت د یهودو ملاتړ برېتانیا کاوه او اوس یې امریکا او په اسلامي خاورو کې د هغې مزدوران کوي. د یهودو پر وړاندې د جګړې لوی خنډ همدا لاسپوڅي حکام دي، ځکه د استعمارګرو کفارو په امر یې پوځونه له یهودو سره له جګړې کولو منعه کړي دي او دا رسۍ له یهودو څخه د ملاتړ او د هغوی د شتون د خوندیتوب لپاره ساتي. دغه رسۍ به یوازې په رښتینې او مخلصې رهبرۍ سره پرې شي، چې پر دښمنانو برید وکړي او د رسول ﷺ خبره پر ځای کړي.

مسلم په خپل صحیح کې له نافع څخه او هغه له عمر څخه روایت کړی، چې پیغمبر ﷺ وفرمایل:

**«لَتُقَاتِلُنَّ الْيَهُودَ فَلَتَقْتُلُنَّهُمْ..»**

**ژباړه:** «تاسو به هرو مرو له یهودانو سره وجنګېږئ او هغوی به ووژنئ.. .»

**اې د اسلامي خاورو سرتېرو!** ایا په تاسو کې یو رشید کس نشته؟ چې سرتېري رهبري کړي، په ځانګړې توګه د مصر، شام او د فاتح له خاورې څخه، ترڅو نور پوځونه له امت سره ورپسې حرکت وکړي او د الله د نصرت لپاره تکبیر ووایي:

**﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾** [غافر: ٥١]

**ژباړه:** «په حقیقت کې موږ هرومرو د خپلو رسولانو او مومنانو (هم) په دنیوي ژوند کې مرسته کوو او(هم) پر هغه ورځ، چې شاهدان ودرېږي.»

**اې پوځونو!** د صبر کاسه په نسکورېدو ده، نور د هیڅ لپاره عذر او پلمه نه دي پاتې! بې له عمل کولو یوازې غوسه کافي نه ده؛ باید یو کار وکړئ! عزیز او حکیم الله تعالی فرمایلي دي:

**﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴾** [توبه: ۱۴]

**ژباړه:** «له دوی سره وجنګېږئ، چې الله ستاسې په لاسونو عذاب ورکړي او رسوا یې کړي او تاسې پرې بریالي کړي او (په دې جګړې) د مومنانو زړونه یخ کړي.»

**اې پوځونو!** د خپلو وروڼو د مرستې لپاره پورته شئ...! د الله سبحانه و تعالی امر ته په لبیک ویلو د خپلو مظلومو وروڼو مرستې ته ور ودانګئ چې الله سبحانه و تعالی مو مرسته وکړي:

﴿يٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُركُم وَ يُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾ [محمد: ۷]

**ژباړه:** «مومنانو! که د الله (د دين) مرسته وکړئ؛ نو مرسته به درسره وکړي او پښې به مو ټينګې کړي.»

**حزب التحرير**

**۱۴۴٦هـ.ق کال د ربیع الاول ۲٦مه**

**۲۰۲۴م کال د سپتمبر ۲۹مه**